# تاسې کې دې هېڅوک داسې نه وايي چې: اې الله! که خوښه دې وي نو بخښنه راته وکړه؛ که خوښه دې وي رحم راباندې وکړه؛ که خوښه دې وي رزق راکړه، بلکې خپله غوښتنه بايد په ټينګه وکړي، ځکه الله تعالی هغه څه کوي چې هغه يې غواړي، هېڅوک يې مجبورولی نشي

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «تاسې کې دې هېڅوک داسې نه وايي چې: اې الله! که خوښه دې وي نو بخښنه راته وکړه؛ که خوښه دې وي رحم راباندې وکړه؛ که خوښه دې وي رزق راکړه، بلکې خپله غوښتنه بايد په ټينګه وکړي، ځکه الله تعالی هغه څه کوي چې هغه يې غواړي، هېڅوک يې مجبورولی نشي». او د مسلم روايت دی چې: «غوښتنه دې په ټينګه وکړي، او هيله (او اميد) دې لوی وساتي، ځکه هېڅ شی الله تعالی ته په عظمت نه قائلېږي مګر دا چې هغه يې ورکوي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم لدې منع فرمايلې ده چې دعا ته له څه شي سره تړاو ورکړل شي، که څه هم د "الله تعالی مشيئت وي؛ ځکه جوته ده چې الله پاک بخښنه نه کوي مګر چاته چې وغواړي، نو د مشيئت شرط ايښودل هېڅ معنا نه لري، ځکه دا شرط يواځې له هغه چا سره ايښودل کېږي چې له خوښې پرته پرې په مجبور سره يو کار تر سره کېږي يعنې هغه يې نه غواړي، حال دا چې الله تعالی له دې او هر ډول نېمګړتياوو څخه پاک دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم د حديث په پای کې جوته کړې ده چې هېڅوک الله تعالی مجبورولی نه شي، همدارنګه، الله ته د هېڅ شي کول سخت ندي، ځکه هغه ناتوان نه دی، چې ورته ووايو: "که غواړې چې فلانی شی راکړې نو رايې کړه. ځکه د مشيئت يادونه داسې ښکاري لکه د الله تعالی له بخښنې څخه ځان مړه خوا ښودل لکه چې اړتيا ورته نه وي، نو د ويونکي دا وينا چې وايي: که غواړې نو راېې کړه؛ هغه مهال کارول کېږي چې يا خو هغه کس نه بې نيازه يې، او يا خو هغه ناتوانه وي، خو څوک چې قادر وي او اړتيا ورته وي، نو هغه ته خپل حاجت لوی ښودل کېږي او د يو بې وزله انسان په توګه ترې سوال کېږي، او هغه ته پناه وړي، ځکه هغه غني (بې نيازه)، کامل، او پر هر څه قادر ذات دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5978